PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۳۵

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۱۳۵ مه گڼه، پر له پسې ۲۲۰۹ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د تلې ۹ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق ذوالقعده ۴ مه د ۲۰۱۱ داکتوبر لومړۍ

تغییر در روند مذاکرات صلح، تردیدها و دیدگاه ها

بعد از ترور استاد برهان‌الدین ربانی رییس شورای عالی و رییس جمهور پیشین افغانستان، فرایند گفتگو و مذاکرات صلح با مخالفان مسلح را دچار تردیدها و ابهام ساخته است، چنانکه برخی از حلقات در داخل کشور به این تاکید دارند، تا در استراتیژی و راهکار مذاکرات صلح با مخالفان مسلح باید تغییرات بنیادین به میان آید. برخی از رهبران جهادی و شخصیت های سیاسی به روز چهارشنبهٔ گذشته در نشست مشورتی به رییس جمهور کرزی پیشنهاد کردند، تا با پاکستان وارد مذاکره شود، نه با طالبان؛ زیرا به گفتهٔ آنان طالبان، آلهٔ دست آی. اس. آی سازمان استخبارات ص۳

DW

اعلان

دویچه ویلي المان ږغ راډیو د واوره اوزده کړه راډیویي ډرامو دپاره په پښتو او دري ژبو ممثلینو ته اړتیا لري.

د "واوره او زده کړه" خپرونه د آلمان ږغ، د راډیویي ډرامو لړۍ ده چې د بشري حقونو، چاپیریال ساتنې، کورنۍ تاوتریخوالي او د ژوند د نورو اړخونو د ښه کولو په اړه د ځوانانو لپاره چمتو کیږي.

دویچه ویلي المان ږغ راډیو ددې ډرامو د ۲۰۰ برخو جوړولو د پاره په دواړو ژبو پښتو او دري د ۱۲ څخه تر ۷۰ کلنۍ پورې ښځینه او نارینوو ممثلینو ته اړتیا لري.

نور معلومات په دغو انترنیتي پاڼو کې ترلاسه کولای سئ.

www.dw.de/pashto

facebook.de/dw.pashto

د دویچه ویله آلمان ږغ راډیویي خپرونې هره ورځ د FM پر څپه ۹۰،۵ په کابل او لنډو څپو په ټول افغانستان کې اوریدلای سئ.

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

له گاونډیو سره بین الدولتي شې اړیکې د سیمې د ثبات ضمانت کوي!

اف غانستان په سیمه کې د خپل ستراتیژیک موقعیت له امله له ګنو ستونزو او ننګونو سره مخ شوی او د نړۍ هر ستروا کمن پر دغه خاوره یو ځل د خپل زور نیلی ځغلولی او ازمویلی دی، چې په پای کې بیا له سختې او شرموونکي ماتې سره مخ شوي دي. دا هېواد په سیمه کې، هم د سیمې لپاره او هم د نړیوالو لپاره یو ستراتیژیک ارزښت او اهمیت لري او له همدې امله هم د سیمې هېوادونه او هم نړیوال هېوادونه او ستروا کي په سیمه کې د خپلو ستراتیژیکو ګټو د خپلولو لپاره د دې هېواد ولکې او یا یې هم تر اغېزې لاندې راوستلو ته سخته اړتیا لري او له دې دوو لارو پرته د هغوی هیلې او موخې ناشونې دي. په دې توګه افغانستان د خپل دغه ډول ستراتیژیک موقعیت په درلودلو سره هم د سیمې له هېوادونو او هم له نړیوالو ستروا کو هېوادونو سره له یو لړ ستونزو او ننګونو سره هم مخ دی، چې له دې جملې نه له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره ستونزې یې تر ډېره مهمې دي، ځکه ګاونډی له ګاونډي نه ژر متاثره کېږي او ګټه – زیان یې تر نورو ژر ورسېږي. په دې توګه باید وویل شي چې افغانستان له ډېر پخوا نه له نړۍ او په ځانګړې توګه له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره ډېرې ښې اړیکې ساتلي او تل د ښو اړیکو د ساتلو په هیله دی، خو له بده مرغه د دغه هېواد ځینې ګاونډي هېوادونه په ځانګړې توګه پاکسان او ایران له افغانستان سره د ښو اړیکو په ساتلو کې چندان ښه عمل نه کوي او همدا لامل شوی، چې د دغو هېوادونو له دولتونو سره وخت په وخت بین الدولتي اړیکې کړکېچنې شوې هم دي، د بېلګې په توګه دا مهال د پاکستان او افغانستان ترمنځ اړیکې یو ځل بیا د خړپړتیا اوج ته رسېدلي او لامل یې هم په افغانستان کې د پاکستان پراخې لاسوهنې، پر افغانستان د پاکستان بریدونه، له پاکستان نه افغانستان ته د وسلوالو مخالفانو رالېږل، د هغوی تجهیزول او روزل او همداشان په سیاسي، اقتصادي او امنیتي برخو کې یو شمېر نور تورونه دي، چې پر پاکستان لګول کېږي. همداشان له ایران سره هم د ورته تورونو خبرې هر وخت راپورته کېږي، چې د دواړو هېوادونو پر اړیکو یې وخت پر وخت ناوړه اغېزې هم لرلې دي. په ټولیزه توګه ویلی شو، چې په اوسنیو شرایطو کې له افغانستان سره د ګاونډیو هېوادونو ناوړه او خرابې اړیکې هم د افغانستان او هم د سیمې د ثبات لپاره خطرناکې او ستر ګواښونه پېښولی شي، تر ټولو غوره داده، چې ګاونډي هېوادونه له افغانستان سره متقابلې ښې اړیکې برقرارې کړي او په دې توګه هم د خپلو هېوادونو او هم د افغانستان د ثبات لپاره مناسب او اغېزمن کاري پروګرامونه رامنځ ته او په ریښتوني توګه یې پلي کړي او له افغانستان سره د هر ډول ناوړو اړیکو تارونه نور وشلوي او په دې توګه د سیمې د ثبات او سولې لپاره ریښتوني اقدام وکړي او له دې پرته د افغانستان بې ثباتي کولی شي، د سیمې او ګاونډ هېوادونه هم تر خپلې مستقیمې او نامستقیمې اغېزې لاندې راولي.

واشگتن در جستجوی بدیل پاکستان!

در حالیکه مناسبات میان ایالات متحده امریکا و پاکستان رو به تیره گی است، شایعاتی افزایش یافته که ازبکستان به متحد جدید ایالات متحده در جنگ با ترور مبدل می شود.

یک مقام رسمی ایالات متحدهٔ امریکا روز گذشته گفت: رییس جمهور بارک اوباما و اسلام کریموف رییس جمهور ازبکستان در مورد استفاده بیشتر از کشورهای آسیای میانه به حیث راه های تدارکاتی نیروهای امریکا و ناتو در افغانستان با هم گفتگو و ملاقات کردند.

قصر سفید روز چهارشنبه تایید کرد که رییس جمهور بارک اوباما با رهبر ازبکستان اسلام کریموف تماس تیلفونی گرفته ۲۰ مین سالگرد استقلال آن کشور را مبارک گفته است و رهبران هر دو کشور علاقمندی شان را در رابطه به آیندهٔ مصوون افغانستان با هم شریک ساختند.

این گفتگوی تیلفونی تقریباً یک ماه بعد از تجلیل تاریخ حقیقی ۲۰ مین سالگرد استقلال ازبکستان که در آخر ماه اگست برگزار شد و پس از چند هفته از ارسال نامهٔ امریکا به این کشور صورت می گیرد.

بارک اوباما در این نامه گفته بود که او انتظار انکشاف روابط میان دو کشور می باشد.

علاوتاً این تماس تیلفونی نابهنگام روزی اتفاق می افتد که سازمان های بین المللی حقوق بشر بطور آشکارا از حکومت ایالات متحدهٔ امریکا تقاضا کردند، طرح کمک نظامی به اسلام کریموف را احیا نکند. زیرا اسلام کریموف رییس جمهور ازبکستان به شکنجهٔ رهبران سیاسی مخالف در آن کشور متهم بوده و به طور گسترده از کار کودکان در صنایع نساجی آن کشور چشم پوشی می کند.

این تحولات زمانی اتفاق می افتند که جنجال ها و مناقشات لفظی ایالات متحدهٔ امریکا با پاکستان، این کشور را مجبور ساخته تا روی متحدان استراتژیک خود در جنگ افغانستان، تجدید نظر کند.

لیلی گیورگیان تحلیلگر امور روسیه و کشورهای «کامن ویلت» در گروه اطلاعات جینس می گوید که امریکا بدون عبور از پاکستان و تعویض کامل راه جنوب، در تلاش اکمال نیروهای خود از طریق شمال افغانستان از طریق کشورهای آسیای میانه می باشد.

وی گفت: "طبیعی است که ایالات متحدهٔ امریکا و ناتو با رو به رو شدن به مشکلات از طریق پاکستان در پی جستجوی انتخاب راه بدیل آن می باشند. در سال های اخیر ما شاهد عدم مصوونیت و اطمینان از طریق خاک پاکستان هستیم و واضح است که این مشکل ایالات متحده و ناتو را وادار می سازد، تا انتخاب دیگر یعنی راه آسیای میانه را در پیش گیرد".

اما ایالات متحدهٔ امریکا پیش از این اقدام، برای فعال ساختن راه اکمالاتی ازبکستان، باید بعضی مشکلات را تحمل کند.

به این اساس کمیتهٔ تخصیص بودجهٔ مجلس سنای امریکا هفتهٔ گذشته پیشنهادی را در مورد رفع محدودیت های حقوق بشر که

در حال حاضر مانع ص۳

د غوړیو، بوریې او سروزرو بیې راولوېدلې



په کابل بنار کې د تېرې پنجشنبې په پرتله داوړو بیه لوړه شوې، خو د غوړیو، بوریې او سروزرو بیې ټیټې شوې دي. د کابل بنار د خوراکي توکو د سوداګرو د ټولنې مشر حاجي فضل الرحمن وویل، چې د تلې ۷ پر مه د تېرې پنجشنبې په پرتله د یوې پنځوس کیلویي بورۍ پاکستاني لومړۍ درجه اوړو د عمده خرڅلاو بیه له ۹۸۰ افغانیو ۱۰۵۰ افغانیو ته لوړه شوې ده.

هغه وایي، چې په کابل بنار کې داوړو بیې ځکه لوړې شوې؛ چې تېره اونۍ د پاکستان حکومت افغانستان ته داوړو پر لېږد بندیز لګولی و.

ده وویل، چې اوس دغه بندیز لرې شوی، خو د یوې اونۍ لپاره د دغه بندیز له امله په کابل بنار کې اوړه کم شوي او بیې یې لوړې شوې دي.

هغه وویل، چې دا مهال د تېرې پنجشنبې په پرتله د یوې پنځوس کیلویي بورۍ برازیلي بوریې د عمده خرڅلاو بیه له ۲۴۲۰ افغانیو ۲۴۰۰ افغانیو ته او د یو پنځه لېتره پیپ سپین غر غوړیو بیه له ۴۳۰ افغانیو ۴۲۰ افغانیو ته لوېدلې ده.

خو دی زیاتوي، چې د تېرې پنجشنبې په ځېر دا مهال هم د یوې پنځوس کیلویي بورۍ لومړۍ درجه سهله وریجو بیه ۲۵۰۰ افغانۍ، د یو کیلو افریقایي تور چای بیه ۱۹۰ افغانۍ او د یو کیلو اندونیزیایي شین چای بیه ۱۶۰ افغانۍ ده.

په کابل بنار کې د ځینو خوراکي توکو پرچون بیې د عمده خرڅلاو له بیو سره لږ او د ځینو ډېر توپیر لري.

د کابل بنار د کارته سې د سیمې یو هټۍ وال شکرالله وایي، چې اوس یوه پنځوس کیلویي بورۍ لومړۍ درجه پاکستاني اوړه په ۱۲۵۰ افغانۍ، یوه پنځوس کیلویي بورۍ لومړۍ درجه سهله وریجې په ۲۶۵۰ افغانۍ او پنځوس کیلویي برازیلي بوره په ۲۵۵۰ افغانۍ پلوري.

هغه زیاته کړه، چې یو پنځه لېتره پیپ سپین غر غوړي په ۴۸۰ افغانۍ، یو کیلو تور افریقایي چای په ۲۰۰ افغانۍ او یو کیلو شین اندونیزیایي چای په ۱۸۰ افغانۍ پلوري.

د کابل بنار د باغ بالا د سیمې د تېلو ټانک کارکوونکی شاهپور وایي، چې د تېرې پنجشنبې په ځېر یو لېتر ډېزل په ۵۸ او پټرول هم په ۵۸ افغانۍ پلوري.

د کابل بنار د تایمني پروژې د سیمې یو ګاز پلورونکی عبیدالله هم وایي، چې د تېرې پنجشنبې په ځېر یو کیلو ګاز په ۵۰ افغانۍ پلوري. خو د سروز بیې په کابل بنار کې لوېدلې دي.

د کابل بنار د مریم لېسې په بازار کې د سروزرو یو پلورونکی عبدالبصیر وایي، چې اوسمهال د تېرې پنجشنبې په پرتله د یو ګرام عربي سروزرو بیه له ۲۴۰۰ افغانیو ۲۲۰۰ افغانیو او د یو ګرام ایراني سروزرو بیه له ۲۰۰۰ افغانیو څخه ۱۸۵۰ افغانیو ته راولوېدلې ده.

د ده په وینا، په نړیوال بازار کې د سروزرو د بیو راولوېدل په کابل کې د سروزرو د بیو د لوېدو لامل دی.

امریکا به ژر د حقاني شبکې په اړه خپله وروستۍ فیصله اعلان کړي

دامریکا د بهرنیو چارو وزیره هیلیري کلنټن وایي چې د ولسمشر اوباما حکومت د تروریستي ډلې په توګه د حقاني شبکې د نومولو په باب خپلې خبرې وروستي پړاو ته رسولي دي.

امریکا تراوسه پورې د پاکستان په خاوره کې د حقاني پر شبکې د دې لپاره برید نه شوای کولی چې د حقاني شبکه یې د تروریستي ډلو په لیست کې نه وه شامله کړې خو که دامریکا حکومت دا ډله د القاعده په شان د ترهګرو ډلو په لېست کې شامله کړي هاله به متحد ایالتونه ځان ته حق ورکوي چې په خپل «ترهګر» دښمن پسې هر ځای لاړ شي.

دامریکا د بهرنیو چارو وزارت د حقاني شبکې زوی سراج الدین حقاني او د هغه یو وروړ په تور لېست کې شامل کړي دي.

مېرمن کلنټن وویل چې د حقاني ډلې په اړه دامریکا حکومت مخکې تر مخکې پرېکړه کړي، خو تر دې وړاندې چې هغه نهایي کړي یو ځل بیا هم په دې موضوع وروستی غور کوي.

په همدې حال کې د پاکستان حکومت له سیاسي او مذهبي ګوندونو سره خبرې پیل کړي چې ایا د حقاني ډله وساتي او که دامریکا فشارونو ته غاړه کښېږدي.

د حقاني شبکې دامریکا او پاکستان اړیکې ترینګلې کړې دي. دامریکا دلوی درستیز مایک مولن د تېرې اوونۍ ځرګندونو چې حقاني شبکه د پاکستان مټ ده، د پاکستان سخت عکس العمل پارولی و.

اډمیرل مایک مولن دا هم ویلي وو، چې پاکستان دامریکا د سفارت او د نا ټو د قرارګاه د سپټمبر د دیارلسمې نېټې په حمله کې لاس درلود.

مېرمن کلنټن تېره اونۍ وویل، دامریکا او پاکستان اړیکې ستونزمنې او پېچلې دي خو دواړه هېوادونه د ترهګرۍ پرضد د مبارزې لپاره ګډې او ستراتیژیکې ګټې لري.

له بلې خوا د پاکستان صدراعظم وړمه ورځ د ببلابېلو سیاسي او مذهبي ګوندونو له مشرانو سره په کتنه کې له امریکا وغوښتل چې پر پاکستان د تورونو له لګولو لاس واخلي.

ګیلاني وویل چې دامریکایي چاروا کو وروستۍ ځرګندونې حیرانوونکې دي او د تروریزم پرضد د پاکستان پر قربانیو یې سترګې پټې کړې دي. ګیلاني په عین حال کې وویل چې د پاکستان مشروع غوښتنې دې ومنل شي.

واشنګتن در جستجوی بدیل ...

پیشنهاد کمک های نظامی امریکا به ازبکستان می شود، تصویب نمود.

اما واضح و روشن نیست که ازبکستان با این کمک های نظامی امریکا چه کار را انجام خواهد داد. زیرا تاشکند بیشتر معاملات نظامی خود را با مسکو انجام می دهد.

این کشور در دهۀ گذشته به ارزش ۳۰۰ میلیون دالر تجهیزات نظامی را از روسیه خریداری کرده است.

در این حال ۲۰ سازمان بین المللی به شمول سازمان ناظران حقوق بشر، سازمان عفو بین المللی و سازمان بین المللی حقوق کارگر در یک اجلاسی روز چهارشنبه نامۀء را به وزیر خارجۀ ایالات متحدۀ امریکا نوشته و در پایان آن امضاء کرده اند.

در این نامه از هیلری کلنتن خواسته شده است که حقوق بشر را بر نگرانی های نظامی مقدم بشمارد. این نامه از خانم کلنتن با جدیت خواسته است، با تصویب این قانون مخالفت کرده و از آن چشم پوشی نکند.

علاوتاً در این روز در حدود ۶۰ تن فعالان در خارج از این اجلاس گردهمایی اعتراض آمیزی را به راه انداختند.

تغییر در روند مذاکرات صلح،...

پاکستان است.

در حالی که حکومت افغانستان انجام گفتگو و مذاکره با پاکستان را رد نمی کند، اما می گوید که طالبان نیز، از دایره مذاکرات حکومت افغانستان بیرون نیست.

صفت الله صافی معاون مرکز رسانه های حکومت یک روز بعد از نشست شماری از رهبران جهادی و شخصیت های سیاسی با رییس جمهور کرزی می گوید: سفارش رهبران جهادی و شخصیت های سیاسی برای آنان مهم است، اما آنچه را که در خصوص مذاکره با طالبان و پاکستان پیشنهاد کرده اند، از قبل در پالیسی حکومت وجود داشته است.

به گزارش رادیو آزادی، وی گفت: "مشوره یی را که نخبه گان جهادی و شخصیت های ملی کشور ما به رییس جمهور دادند، در تناقض با پالیسی حکومت افغانستان قرار نداشته است. تا جایی که هیأت شورای عالی صلح از کشورهای همسایه به خصوص پاکستان دیدارهایی داشته اند، از نظر ما اگر پاکستان بخواهد، می تواند در جهت تامین صلح و ثبات در افغانستان، نقش اساسی را بازی کند. صحبت هایی که صورت گرفت، در حد مشوره بود و هر نوع موقفی که در این راستا اختیار شود، پیش بینی در مورد آن پیش از وقت است".

با توجه به این اظهار نظر مقام افغانی، یک مقام پاکستانی نیز، خاطرشان ساخت، اگر حکومت افغانستان خواسته باشد، مذاکرات صلح با مخالفان نتیجه بدهد، پاکستان می تواند، این مامول را ظرف یک ماه برآورده سازد. به هر حال، این اظهارات در حالی صورت می گیرد که پس از کشته شدن استاد برهان الدین ربانی رییس شورای عالی صلح، برخی از بزرگان جهادی و شماری از طرفداران آنان خواستار ایجاد تغییرات در پالیسی حکومت شدند.

آنان از حکومت خواستند، تا پس از این در مذاکره با طالبان را ببندند؛ زیرا به گفتۀ آنها طالبان هر گونه درخواست صلح حکومت افغانستان را با خشونت پاسخ داده اند.

این در حالی است که مقام های شورای عالی به این باور اند که هر گونه تغییر در طرح مصالحه با مخالفان باید در مشوره با شورای عالی صلح صورت بگیرد.

قاضی امین وقاد یک تن از اعضای شورای عالی صلح در گفتگو با رادیو آزادی گفت: شورای عالی صلح اصلاً در جریان نیست که در طرح مصالحه با مخالفان از سوی حکومت افغانستان چه تغییراتی به میان آمده است.

وی گفت: "دولت هر تغییری که بیاورد، از مسوولان اجرایی این روند نظر خواهی نمی کند. آنان در سطح آمران دولت می نشینند و در روند مصالحه با مخالفان تغییر می آورند."

به باور وی، در مصالحه با مخالفان که تغییر وارد شود، پس مسوولیت اجراییوی اش که جریان را تعقیب می کند، به دوش کیست؟

وقاد افزود: "تغییرات فرمایشی که بدون مشوره و نظر خواهی ما به میان آید و نماینده یی مکتوبی را برای ما بیاورد، ما آماده نیستیم که بدون مشوره و نظر خواهی آنرا بپذیریم، به ارگان دیگری راجع بسازد که صلاحیت و مسوولیت دارد، به هر ارگانی که راجع می سازد بسازد".

وقاد به این باور است که تا حال شورای عالی صلح گفتگو هایی موثر را با افراد با صلاحیت گروه مخالف انجام داده است.

اما مقام های ریاست جمهوری افغانستان می گویند: حکومت افغانستان از این پس با افراد بی صلاحیت به گفتگو های بی حاصل نمی پردازد.

به گفتۀء ریاست جمهوری افغانستان، تلاش های حکومت به خاطر تامین صلح و ثبات در کشور نتیجۀ موثر نداشته و نیاز است، تا از این پس با بازیگران اصلی گفتگو صورت گیرد.

احمد ضیاء سیامک هروی یک تن از سخنگویان ریاست جمهوری افغانستان در صحبت با رادیو آزادی گفت: رهبری حکومت این کشور در مشوره با اقشار مختلف کشور تصمیم گرفته تا مذاکرات صلح را با پاکستان انجام بدهد.

هرچند هروی نگفت که آیا این تصمیم در مشوره با شورای عالی صلح اتخاذ شده یا نه، اما تاکید کرد که روش مذاکرات صلح باید تغییر کند.

پیش از این داکتر رنگین دادفر سپنتا مشاور امنیت ملی افغانستان نیز گفته بود که طرح مصالحه با مخالفان مسلح مورد تجدید نظر قرار گرفته و به گفته وی نیاز است، تا گفتگو های صلح به جای مخالفان با مقام های نظامی و اطلاعاتی پاکستان صورت گیرد.

حکومت افغانستان در حالی از آماده گی اش برای اجرای مذاکرات صلح با حکومت پاکستان سخن می زند که به باور شماری از مقام های امریکایی، پاکستان نمی گذارد رهبران طالبان با دولت افغانستان گفتگو هایی صلح را انجام بدهند. راین کراکر سفیر ایالات متحدۀ امریکا در کابل در اوایل ماه سپتمبر در صحبت با روزنامۀء US Today این مسأله را تایید کرده و گفته بود، به آنهایی که می خواهند، با دولت افغانستان مذاکره کنند، باید فرصت داده شود.



فرانسه به هم له امریکا سره یو ځای له افغانستانه د خپلو ځواکونو وتل پیل کړي

د فرانسې ولسمشر نیکولاس سارکوزي وویل افغانستان ته هغه فرانسوي ځواکونه چې له نړیوالو ځواکونو سره د تروریزم پر وړاندې د ګډې مبارزې لپاره افغانستان ته تللي وو، د امریکایي ځواکونو له وتلو سره جوخت به له افغانستان څخه وځي.

سرکوزي وویل، تر ۲۰۱۴م کالې پورې به ۳۳ زره امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه وځي. د سارکوزي دفتر وویل چې نومورې له خپل امریکایي ساري بارک اوباما سره پر ټلیفوني خبرې وکړې او د ګډو ځواکونو د تدریجي وتلو پر مسئلې یې ورسره خبرې وکړې.

فرانسه دا مهال په افغانستان کې ۴ زره عسکر لري، چې اکثره یې په کاپیسا او نورو ورځېرمه ولایتونو کې دېره دي، تر دا مهاله پورې ۶۲ فرانسوي عسکر په ببلابېلو پېښو کې وژل شوي دي.

حمایت آی. اس. آی از شبکۀ حقانی ...

از کانال های دیپلوماتیک- برای حل اختلافات با واشنگتن استفاده شود.

آمیز و آشتی جویانه توسط رهبران ملکی و نظامی انعکاسی از معمایی می باشد که پاکستان به



یوسف رضا گیلانی صدراعظم پاکستان که سیاستمداران احزاب مختلف سیاسی آن کشور را برای فورمول بندی یک جواب به اتهامات ایالات متحدۀ امریکا گرد هم جمع کرده بود، واشنگتن را علیه وارد آوردن فشار بالای پاکستان هوشدار داد، اما افزود، دروازه ها از سوی ما برای بحث و مذاکره باز است.

علت اتهامات ایالات متحدۀ امریکا با آن رو به رو است، اما نمی تواند از عهدۀ قطع کامل آن برآید. یک مقام وزارت خارجه پاکستان نیز به روزنامۀ فایننشل تایمز گفته است:

"توسعۀ بحران متاسفانه ما را به جایی رساند که مردم هر دو کشور را تکان داد. اما اینجا بحث هایی ادامه دارد، تا جلو بحران های بزرگتر گرفته شود".

اظهارات مختلط، اعتراض

حمایت آی. اس. آی از شبکهٔ حقانی، سخنان خصوصی امریکا و پاکستان را به محضر عام کشید

اطلاعات استخباراتی به دست آمده از حملهٔ ماه جاری بر سفارتخانهٔ ایالات متحدهٔ امریکا در کابل تنش میان امریکا و پاکستان را بیشتر ساخته است.

زمانی که در ماه جاری افراد مسلح شبکهٔ حقانی سفارتخانهٔ امریکا در کابل را با راکت های سر شانه یی مورد حمله قرار می دهد، کارمندان استخباراتی امریکا به تیلیفون های آنها گوش می دادند.

فایننشل تایمز به نقل از افراد آگاه از این واقعه می نویسد، شورشیان در جریان حمله و بعد از آن با اشخاص ارتباطی خود در پاکستان از طریق تیلفون صحبت می کردند و تیلیفون های به دست آمده اطلاعات فوق العاده را در اختیار تحلیلگران استخبارات امریکا گذاشته است.

این اطلاعات شک و گمان هایی را تقویت کرد که ادارهٔ استخبارات پاکستان آی. اس. آی از این شبکه حمایت می کند و همچنین در ادعای لوی درستیز قوای مسلح امریکا امیرالبحر مایک مولن سهم خود را داشت که او این گروه را بازوی حقیقی آی. اس. آی خواند.

اظهارات مولن از سوی حکومت و اردوی پاکستان با خشم رد گردید. اما به گفتهٔ کارشناسان این اضطراب عمومی همچنین نشان دهندهٔ کوتاهی پالیسی واشنگتن در قبال پاکستان است.

ادارهٔ رییس جمهور اوباما حتا به دنبال تنش در روابط میان دو طرف در اثر عملیات بر منزل اسامه بن لادن در نزدیک اسلام آباد در ماه می، به بررسی عمیق این روابط پرداخت.

اما بروس ریدل کارمند سابق استخبارات که اولین بررسی بارک اوباما دربارهٔ افغانستان و پاکستان را رهبری می کرد، حمله بر سفارتخانهٔ امریکا در کابل را آن «باری کاهی» خوانده است که گاهی هم کمر شتر را می شکند، یا عبارت دیگر یک موضوع بسیار مغلق را به ساده گی روشن ساخت.

فایننشل تایمز می نویسد، مقام های امریکایی که طی ماه های اخیر در پاکستان و افغانستان با امیرالبحر مایک مولن ملاقات کرده اند می گویند: وی به طور فزاینده احساس می کرد که برخی از مقام هایی مانند جنرال اشفاق کیانی لوی درستیز مقتدر اردوی پاکستان و جنرال شجاع پاشا رییس استخبارات آی. اس. آی با او از خدعه و فریب کار می گرفتند.

به نوشتهٔ روزنامه، تحلیلگران می گویند: اگرچه مایک مولن در این

اظهاراتش اندکی فراتر رفت اما او تنها شخص نیست که این گونه طرز دید را دارد.

روزنامه به نقل از منابع در قصر سفید می نویسد: یک سلسله از حملات مغلق طالبان در تابستان که ظاهراً از حمایت آی. اس. آی برخوردار است، موجب آن شد، تا مقام های امریکایی برای آزمایش پاکستانی ها سخنان را که به طور خصوصی می گفتند، در محضر عام ابراز بدارند.

فایننشل تایمز می نویسد، واضح است که برخورد استراتیژیک امریکا با پاکستان نتایج دلخواه ادارهٔ اوباما را با وجود میلیاردها دالر کمک اقتصادی و نظامی به همراه نداشت.

به گزارش رادیو آزادی، برخی از مقام ها فکر می کنند که ایالات متحده در حال حاضر با حضور قوای امریکایی در جنوب و شرق افغانستان فرصت بی مانند را به دست آورده، تا ارتباط میان طالبان افغان و آی. اس. آی را قطع کند.

اما به نوشتهٔ روزنامه، تعدادی دیگر تا هنوز به این باور اند که اردوی پاکستان باید نقش مهم را در کشاندن طالبان به میز مذاکره بازی کند.

با این همه اتهامات، تردیدها و تنش ها در روابط واشنگتن و اسلام آباد، برخی حلقات در پاکستان طرفدار این نیستند، تا روابط این کشور با امریکا به کلی قطع گردد.

رییس ادارهٔ استخبارات پاکستان به سیاستمداران کشورش گفت: باید اجازه داده نشود، تا روابط با ایالات متحده امریکا روی این اتهامات که ادارهٔ استخبارات پاکستان از حملات شبکهٔ حقانی بالای نیروهای ناتو در افغانستان حمایت می نماید، کاملاً قطع گردد.

جنرال احمد شجاع پاشا رییس ادارهٔ استخبارات پاکستان روز گذشته در اسلام آباد به سیاستمداران همه احزاب سیاسی آن کشور گفت: هر گونه اقدام حمله بالای پایگاه های شورشیان مظنون در داخل خاک پاکستان غیر قابل قبول خواهد بود.

به گزارش رادیو آزادی، اردوی پاکستان که سیاست های مربوط به افغانستان این کشور را اداره می نماید، بار دیگر این موضع خود را تکرار کرد که گویا اردوی پاکستان پلان قریب الوقوع کدام عملیات را در وزیرستان شمالی ندارد، جایی که به باور مقام های امریکایی شبکهٔ حقانی در آنجا پایگاه ها دارد.

اما جنرال شجاع پاشا رییس ادارهٔ استخبارات پاکستان همچنان گفت: این هم مهم است که روابط با ایالات متحدهٔ امریکا نباید به نقطهٔ بر گشت ناپذیر برسد و باید ص۳

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین

عدم تبعیض در تطبیق قوانین: مسوولیت همه افراد در مقابل قانون یکسان بوده و بدون تبعیض باید از حمایت مساویانه قانون برخودار باشند.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوې، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه پې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
زیر نظر هیات تحریر
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴–
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶–
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com